***Journal of Religion & Society* (JR&S)**
*Available Online:*
*https://islamicreligious.com/index.php/Journal/index*
*Print ISSN: 3006-1296Online ISSN: 3006-130X*
*Platform & Workflow by: Open Journal Systems*
*https://doi.org/10.5281/zenodo.22927926*

# The concept of time and space (or time and place) in the stories of Master Abdul Karim

# د ماسټر عبدالکريم په افسانو کښې د زمان او مکان تصور

**Amjad Ali Khaksar**
Phd (Pashto) Research Scholar, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.
***Corresponding Author**: amjadalikhaksar2015@gmail.com
**Dr. Kiran Seeneen**
Assistant Professor, Pakhtunkhwa study Center, Bacha Khan University Charsadda.

**Abstract**

*This research article examines the concept of time and space in the short stories of Master Abdul Karim, with particular reference to his short-story collection Jhoolay Gulona. The study focuses on the ways in which time and space contribute to the construction of characters, narrative situations, social realities, and the intellectual significance of his stories. It also discusses the relationship between historical time, narrative time, social space, and geographical space in his fiction. The study employs the concept of chronotope, particularly the interconnectedness of time and space in literary narratives, as a theoretical framework for the analysis.*

*The findings indicate that time and space in Master Abdul Karim's short stories are not merely background elements for the occurrence of events; rather, they function as significant components in representing the historical, political, and social conditions of his period. His stories reflect the experiences of ordinary people, political awareness, colonial oppression, imprisonment, social injustice, and the struggle for freedom. Places such as villages, hujras, political gatherings, roads, and prisons acquire meanings shaped by their historical context. Thus, the interaction of time and space creates a distinct literary world in which individual experiences are connected with collective historical consciousness. The study concludes that the concept of time and space, viewed through the framework of chronotope, is an important aspect of understanding the artistic, social, and historical dimensions of Master Abdul Karim's short stories.*

په پښتنه خاوره وخت په وخت ادبي ، سياسي ، او سماجي تحريکونه تېر شوي دي چې د پښتو ژبې او ادب په روزنه کښې يې ډېر ښه فعال کردارونه ادا کړي دي په دې تحريکونو کښې يو خدايي خدمتګار تحريک هم دے ـ چې د برصغير يو ډېر اهم سماجي او سياسي تحريک وۀ، د دې تحريک بنياد **خان عبدالغفار خان (باچا خان)** د شلمې پېړۍ په شروع کښې ايښے وۀ ـ

> "باچا خان د دوي لويه جرګه په اتمانزو کښې راغونډه کړله او فيصله وشوه چې د رضاکارونو يو جماعت دې جوړ شي چې د افغان جرګې سره مرسته کوي ـ خو ځان له به جدا تنظيم لري ـ او وردي به يې وي ـ په دا شان د کال ۱۹۲۹ په اکتوبر کښې د "خدايي خدمتګار" په نوم د يو تنظيم رده کېښودے شوه "[1]

دا تحريک د عدم تشدد، اصلاحِ ، تعليم، قومي شعور او د انګريز استعمار خلاف يو فعال تحريک وۀ چې خدايي خدمتګارانو به د پښتنو

ترمنځ د ورورولۍ، مینې ، خدمت او اخلاقي تربیت درس ورکولو او په پښتني ټولنه کښې یې د بیدارۍ یو اهم رول لوبولو ځکه خو په عوامو کښې دومره مشهور شوے وۀ ـ

"۔ ۔ ۔نومبر ۱۹۲۹ء میں خدائی خدمتگار تنظیم قائم کی گئی۔ سر فراز خان اس کے پہلے صدر تھے جبکہ حاجی گل کو سیکرٹری مقرر کیا گیا تھا۔ یہ تنظیم بہت جلد مقبول ہو گئی تھی۔"[2]

خدایي خدمتګار تحریک صرف یو سیاسي یا تنظیمي غورځنګ نه وۀ، بلکې دا د پښتنې ټولنې د فکري، اخلاقي او ادبي بیدارۍ یو مکمل مکتب وۀ. د دې تحریک بنیاد په عدم تشدد، انسان دوستۍ، قومي شعور او ټولنیز انصاف ولاړ وۀ، چې ژور اثر یې د پښتو ادب په بېلابېلو صنفونو کښې ښکاره شو. د خدایي خدمتګار تحریک د فکري پیغام د څرګندولو یوه اثرناکه وسیله وګرځېده.

"خدائی خدمت گار تحریک کے متعلق باچا خان نے لکھا ہے کہ خدائی خدمت گار ایک مذہبی اخلاقی اور سیاسی تحریک ہے۔ اس تحریک کے اغراض و مقاصد بنی نوع انسان کی خدمت اور ان میں محبت، خلوص ہمدردی رواداری اور بھائی چارے کا جذبہ پیدا کرنا ہے۔ ہر خدائی خدمت گار کا فرض ہے کہ وہ قتل، زنا، ڈاکہ بے حیائی، شراب اور ہر قسم کی برائی سے اجتناب کرے۔ جھوٹ بولنا، چغلی کھانا ضد اور پارٹی بازی کرنا اور انتقام لینا اس تحریک کے اصولوں کے خلاف ہے۔ خدائی خدمت گاروں کو چاہیے کہ وہ خود غرضی مکر، ریا حرص، لالچ، نفسانی خواہشات غرور اور تکبر سے پرہیز کریں کیونکہ یہی بری عادتیں انسان کی بدترین دشمن ہیں۔"[3]

د دغه مزکوره تحریک یو کمال دا وۀ چې په اول ځل یې په شعوري طور په پښتنو کښې د سیاسي شعور سره سره تعلیمي سوچ پېدا کړو او بیا په تېره تېره د پښتو ژبې او ادب د پاره یې هغه مقصدي شاعران او نثر نګاران پېدا کړل چا چې ادب ژوند په شعوري توګه استعمال کړو ـ دغه شاعران، ادیبان چې له دې تحریک سره تړلي وو، خپل ادبي تخلیق یې د اولس د خدمت، شعور د راویښولو او د سماجي نا انصافۍ د را برسېره کولو د پاره پکار کړو. د دوي ادبي اثار د عام انسان درد، د استحصال خلاف احتجاج او د ازادۍ ارمانونه راوپارول .

د دې تحریک سره یو سیاسي او ادبي غړي ماسټرعبدالکریم هم تړاو لرلو چې د اتمانزو چارسدې اوسیدونکے وۀ ، د قلم خاوندان کتاب د دۀ په حقله داسې معلومات لري ـ

"خپل نوم یې ماسټر عبدالکریم خان دے او په ادبي دنیا کښې په ماسټر عبدالکریم مشهور دے کال ۱۹۰۸ د منتظر خان په کور کښې په اتمانزوچارسده کښې پېدا شوے دے او د جنورۍ د میاشتې په اتلسمه نېټه په کال ۱۹۶۱ کښې وفات شوے دے ،ځولۍ ګلونه یې د افسانو چاپ کتاب دے "[4]

ماسټر عبدالکریم د باچا خان په جوړ کړلے شوي سکولونو کښې د یو سکول استاذ وۀ خو یو داسې استاذ چې د دې خپل قام سره یې بې فنا مینه وه او ځان یې د اولس په غم درد کښې شریک ګڼلو ـ

"زۀ هم استاذ پاتې شوے یم او هم سیاسي کارکن یم ، نو په ځان مې د یو اولسي سړي بدګوماني شان شوې ده او په دغه سبب ما په هره قصه کښې د قام او اولس غم ژړلے دے "[5]

په دې خاوره د خدایي خدمتګارو د تحریک اولنے او لوې منشور دا وۀ چې انګرېز دې په هر حال د دې خاورې نه اووځي ځکه خو یې انګرېز په هر شان سره تنګول غوښتل او په دې وجه به جېلونو ته تلل ـ دغسې ماسټر عبدالکریم هم د خپل قام سره د مینې په جرم کښې څو څو ځله جېلونو ته تلے دے ـ

> "د هټلر بمبارو د لاسه په لندن رڼا ورځ تیارۀ شپه شوې وه ، ما د "ننني دنیا" د سرخط لاندې د "پښتون " د پاره تش دومره ولیکل :
> از مکافاتِ عمل غافل مشو
> گندم از گندم بروید جوزجو
>
> خبره دومره بده نه وه او وه هم رښتیا خو په فرنګي بده ولګیده او زۀ یې د پېښور په ستر جېل کښې بندي کړم "[6]

لکه ما چې څنګه اګاهو ووې چې ماسټر عبدالکریم د خدایي خدمتګارو سره د نسبت په وجه څو څو ځله وخت په وخت د جېل تورو بمبو ته تلے دے ۔ او یو وجه ده هم وه چې ماسټر صېب به د هغه وخت په پښتون اخبار کښې د "ننني دنیا" عنوان لاندې هغه حقیقت لیکلو چې د هغه وخت په حکومت به بد لګېدلو ځولۍ ګلونه افسانې هم د دغه وخت حقیقي قیصې دي ۔

> "ځولۍ ګلونه د ماسټر مرحوم د هغو کیسه ګیو او تکلونو ګلغونچه ده ، چې وخت پر وخت یې د ایوب خانۍ او قیوم خانۍ زندانونو په تورتمونو کښې یوه یوه راټوکولې او راغونډه کړې ده"[7]

ماسټر عبدالکریم مونږه د سیاسي مبارز نه علاوه د یو ښه افسانه نګار په توګه پېژنو د هغه افسانې د خپل وخت ژوندي او حقیقي موضوعات لري ـ ځکه د ادب پوهان د هغه افسانې د خپل وخت اوچتې افسانې مني ـ

> "په عمومي ډول د ماسټر عبدالکریم خان افسانې په پښتو ادب کښې د خپلو موضوعاتو د معنویت او نوي والي له رویه د خپل وخت په اندازه د ډېري اوچتې پایې افسانې دي "[8]

ماسټرعبدالکریم د پښتو ادب هغه افسانه نګار دے چې تخلیقي فکر یې د ترقي پسند ادب له روایت سره ژوره اړیکه لري. د دۀ افسانې د ټولنیزو ناانصافو، ذهني غلامۍ او انساني محرومۍ ژوندي تصویرونه وړاندې کوي. ماسټرعبدالکریم د عام انسان د ژوند ترخو حقیقتونو ته په سنجیده او شعوري نظر ګوري او خپل ادبي اظهار د فکري بیدارۍ وسیله ګرځوي. د دۀ افسانوي انداز ساده خو ژور دے، چې پکښې هنر د ټولنیز مقصد تابع ښکاري ـ اسیر منګل په خپل کتاب کښې د پښتو وړومبے افسانه لیکونکے سرخط لاندې د ماسټر عبدالکریم په حقله لیکي ـ

> "ماسټر عبدالکریم د دې دور یو ښۀ افسانه نګار دے د دۀ افسانو مجموعه ځولۍ ګلونه په کال ۱۹۵۷ کښې خپره شوې ده دې نه مخکښې د دۀ دا افسانې دو ړومبي دور په مختلفو مجلو کښې هم مخې ته راغلي دي دۀ په خپلو لنډو کیسو کښې د ټولنې استحصالي رویو عکاسي کړې ده او د چقیدلي ولس ستونزې یې په ګوته کړي دي او د دوي کړمې یې په فنې توګه د خپلو افسانو موضوعات ګرځولي دي دے د ادب له پاره د ژوند پلوي وۀ ترقي پسند ذهن یې لرلو "[9] ـ

ماسټر عبدالکریم ایکي یو کتاب د ځولۍ ګلونو په نوم باندې لري چې ټولې پکښې ۱۴ افسانې دي چې وړې وړې قیصي دي خو دا افسانې د حقیقي ژوند سره نزدې نسبت لري بلکې دومره نزدې چې د سړي پرې د حقیقي واقعو ګومان کیږي ـ

ادبي تخليق صرف د حادثات يا پېښو بيان نه وي، بلکې دا د انساني تجربې هغه ژوره دنيا وي چې په يو خاص وخت او خاص ځاے کښې واقعه کېږي. هره افسانه، ناول يا شعري تخليق د يو تاريخي، سماجي او نفسياتي چاپېرچل انعکاس وي، چې بې د هغه د اثر نه يې معنا نيمګړې پاتې کېږي. هم دا وجه ده چې په يو ادبي اثر کښې د زمان او مکان مطالعه يو خاص اهميت لري، ځکه د هم دغو دوه عناصرو په رڼا کښې د تخليق فضا، د کردارونو جوړښت او د اثر فکري پيغام په ښه ډول پېژندلے شي. د دې وجې نه وخت/زمان او ځاے/مکان پېژندل ضروري دي ـ

د يو ښۀ شاعر او اديب پېژنګلو دا وي چې د دۀ د اثارو نه به د زمان او مکان صفا اندازه کېدلے شي په دې وجه د هغه ادبي فن پاره خپل ادبي تشخص نه بائيلي ـ

افسانه د نثري ادب هغه صنف دے چې د لږو ټکو په وسيله د ژوند لوے حقيقتونه بيانوي. افسانه د انساني نفسياتو، ټولنيزو تضادونو او د ورځني ژوند د پېښو هنري انځور وړاندې کوي او لوستونکے د فکر او احساس له يوې نوې تجربې سره مخامخ کوي. هم دغه انفراديت افسانه د ادب يو اثرناک او ژوندے صنف ګرځوي، دغه وجه ده چې يو ليکوال خپل فکري، سماجي او انساني نظرونه په ژوره توګه په افسانه کښې څرګندوي.د افسانې د لغوي معنې نه کۀ هر څو د دروغجنې قيصې مفهوم ذهن ته راځي ـ او لغات يې دا معنې کوي ـ

"بې بنياده خبره ، د ځانه جوړه خبره ، لنډه تخيلي قيصه چې حقيقت ئې څه نه وي"[10]

"د حقيقت ضد،ادبي اصطلاح کښې وړه قيصی"[11]

که هر څو د افسانې لغوي معنا د حقيقت ضد او دوروغجنه قيصه ده خو په اصطلاح کښې يې دا معنا نه ده بلکې يوې وړې قيصې ته وايي ـ او ډېرو خلقو يې په خپل خپل ځاے مختلف تعريفونه کړي دي خو يو جامع تعريف به يې دا شي ـ

مطلب دا چې هغه وړه قيصه چې د ناول او داستان غوندې لويه نه وي او نه ورته د ډرامې په شان د سټېج ضرورت وي [12] ، د يو کردار د ژوند په يو اړخ ليکلے شوې وي چې اختصار سره سره پکښې وحدت تاثر موجود وي [13]، چې د نيمې ګنټې نه تر درې ګنټو پورې لوستلے شي [14] پلاټ، کردارونه ،وحدت زمان،وحدت مکان،وحدت عمل، وغېره پکښې وي ،د قيصې موضوع د امروزه ژوند سره نزدې وي افسانه بللے شي ـ

زمان او مکان دواړه د عربی الفاظ دي چې اکثر مرکب وئيلے شي، دې ته په اردو او پښتو کښې هم زمان او مکان وايي او په انګرېزی کښې ورله د Space and Time په شان الفاظ پکاريږي ـ د زمان مطلب دے وخت او د مکان مطلب دے ځاے يا مقام چې په مختلفو لغاتو او اصطلاحاتو کښې يې داسې تعريفونه شوي دي چې د پوره فهم د پاره ما پرله پسې راوړي دي ـ

"وخت ،محال ، شېبه ،روزګار، پېر،[15]

"وقت، گھڑی، ساعت، دم، مدت، معیاد، وقفہ، زمانہ، عھد، دور، جگ, موقع، ھنگام، موسم، فصل، رت، فرصت، مھلت باری، نوبت، دفعہ، ھار، حالت، گت، عمر، زندگی، حیات، موت کی گھڑی، مصبیت، وقت، دشواری "[16]

"وقت ایک ایسی تجرید ہے جو نہ دیکھی جاسکتی ہے نہ سنی یا چھوٹی جاسکتی ہے۔ ہم وقت کے حوالے سے مدت عرصہ اور زمانہ جیسے الفاظ استعمال کرتے ہیں تو اُس میں. میں پھیلاؤ اور وسعت پذیری کا مفہوم خود بخود شامل ہو جاتا ہے۔ کیونکہ ہم وقت کا عمومی تصور اس کائنات میں ہونے والے واقعات کے ذریعے کرتے ہیں۔"[17]

"**وخت** یو اندازه شوې یا د اندازې وړ څیز دې، یو داسې تسلسل چې فضايي ابعاد نه لري- وخت فلسفي ارزښت هم لري او هم د رياضي او سائنس د څېړنې موضوع هم ده-[18].

هم دغه شان به اوس د مکان په حقله هم یو څو تعریفونه پرله پسې راوړم چې دا اندازه اوشي چې مکان څۀ شے دے ـ

د اوسېدو ځاے، ځاے، کور، استان، استانه"،[19]

"جگہ، مقام، ٹھکانہ، وسعت جس میں کوئی وجود سما سکے یا سمایا ہو (زمان کے بر خلاف) رہنے کے لیے بنی ہوئی عمارت یا جگہ، مسکن، حویلی، گھر، مقام بود و باش (مجازاً) اہل خانہ، گھر کے لوگ اہلیہ، بیگم، بیوی (قدیم) مقام، رتبہ، درجہ"[20]

**مطلق مکان** هغه فضا ده چې په خپل ذات کښې ثابته او نه بدلېدونکې ګڼلے کېږي او د نورو څیزونو په شتون پورې تړلې نه وي. **اضافي مکان** بیا د هم دې فضا هغه برخه ده چې د نورو شیانو په نسبت یې ځاے او موجودګي بدلېږي، او مونږ یې د نورو شیانو په نسبت د ځاے د لارې پېژنو.

"مطلق فضا (مکان) کسي خارجی شے کے لحاظ نھیں بلکہ فی نفسہ محض اپنی حقیقت کی بنا پر غیر متغیر اور غیر متحرک ہے، اضافی مکان مطلق مکان کا ایک حرکت پزیر حصہ ہے ھمارے حواس اس کو دوسری اشیا کی لحاظ سے اس کے مقام کے ذریعے محسوس کرتے ہے
21"


زمان او مکان صرف د وخت او ځاے په مفهوم سره نه پکاریږي بلکې د زمان او مکان تصور ډېر خور وور دے دا یو سائنسي تصور دے ، فلسفي تصور هم دے ، مذهبي تصور هم دے ، کلتوري تصوري هم دے، تاریخي تصور هم دے ،ادبي تصور هم دے ، مطلب دا یو ډېر وسیع او خور وور شے دے ، په سائنس کښې د زمان او مکان شروع د نیوټن نه شوې ده او ورپسې بلها سائنسدانان تېر شوي دي چې اخر په پکښې د ائن سټائن پورې راغلي ده د نیوټن په خیال زمان او مکان مطلق دي یعنې زمان د دنیا په هر مقام هم یو شان روان دے د څیزونو او پېښو نه بیل یو وجود لري دغه رنګ مکان یو ثابت او نه بدلېدونکے څیز دے چې ټول جسمونه پکښې ځاے نیسي مطلب زمان او مکان بیا هم موجود دي کۀ څیز وي او کۀ نه وي ـ

"نیوٹن کے خیال میں وقت خط مستقیم میں ہر طرف رواں تھا۔ یعنی اگر مادہ موجود نہ بھی ہو تو بھی مکان کا ایک طے شدہ سانچہ موجود ہو گا اور وقت کا بہاؤ اس کے اندر جاری رہے گا۔ اس خیال کے تحت وقت کائنات سے الگ وجود کا حامل ہے اور اگر کائنات ختم بھی ہو جائے تب بھی وقت کا وجود باقی رہے گا۔ اس اعتبار سے نیوٹن زمان مطلقAbsolute Time اور ظاہری / عام وقت میں امتیاز کا قائل ہے، جیسا کہ ارضی گھڑیوں میں ہوتا ہے۔"[22]

د نیوټن دغه خیال تر ډېر وخته پورې منلے کېدو خو چې کله په ۱۹۰۵ کښې البرټ ائن سټائن خپله د اضافت نظریه وړاندې کړه نو یو نوے انقلاب پېدا شو د دۀ په خیال زمان او مکان مطلق او جدا کیدونکي نه دي بلکې د یو بل سره نسبت لرونکي دي دي ـ

"اس طرح آئن سٹائن نے بتلایا کہ مکاں اور زماں ایک دوسرے سے علیحدہ اور مطلق نہیں ہیں بلکہ ایک دوسرے پر منحصر اور اضافی ہیں۔ کائنات مکان اور زمان دو مختلف چیزوں پر ستال مشتمل نہیں ہے بلکہ اس میں ایک ہی چیز جس کو "مکاں-زمان "کہہ سکتے ہے- ہیں پائی. جاتی ھے جس میں مکاں اور زمان اس طرح سے گھل مل جاتے ہیں کہ ان میں امتیاز کرنا ممکن نہیں۔ اس کا نتیجہ یہ ہو کہ 19 ویں صدی میں "تین بعدی" دنیا کا جو تصور رائج تھا اس کی بجائے دنیا کے متعلق ہمارا تصور "چار بُعدی" ہو گیا ہے۔[23]

د دۀ په خیال مکان درې بعدونه یا اړخونه لري وي او زمان ورسره یو نو په شریکه څلور اړخونه یا ابعاد شو چې په دې شکل سره ثابتېدلے شي ـ




په دې کښې پلنوالے ،اوږدوالے ، او اوچتوالے په انګریزي x,y,z, او T د وخت محدودیت ښايي — چې په شریکه درې اړخیز یعنې three-dimensional او زمان یو اړخ یعنېOne dimensional دے —

په دې کښې سائنسي نورې بلها نظریې هم شته دے ، څوک وايي زمان د مکان نه اول موجود وۀ او څوک وايي چې زمان د مکان سره پېدا شوے دے خو زۀ پرې نور تفصیلي بحث نه کوم او صرف تذکره یې کافي ګڼم —

داسې زمان او مکان یو فلسفیانه تصور هم پاتې شوے دے چې ارسطو، ابن رشد، کانتور(Cantor) ، مګ ټیګرټ(McTaggart) ، لایب نټز(Leibniz) ، امام غزالي او ایوديموس.(Eudemus) رسل (Russell) او آینسټاین.(Einstein) ، برګسان (Bergson) او علامه محمد اقبال پورې پرې بلها خلقو بحثونه کړي دي —

د زمان او مکان اسلامي تصور د سائنسي تصور نه هم ډېر لوړ او اوچت دے د دنیا د مادي ژوند ،حج ،روژه ، زکات،اختر،مونځ وغیره نه واخله تر د روحاني ژوند پورې ټولې خبرې په زمان او مکان پورې تړلي دي ځکه خو په احادیثو مبارکو کښې دا خبري موجودې دي چې زمانې ته بد مۀ وایئ —

" لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ، فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الدَّهْرُ ".[24]

ژباړه " په وخت یا زمانه بد مه وایئ، ځکه هر څه د الله تعالی له لوري کېږي.

په ادب کښې **زمان او مکان** د یوې قیصې اهمې برخې دي.زمان مونږه ته دا وايي چې پېښې کله شوي دي یعنې تېرو وختونو کښې اوسنو وختونو کښې یا راتلونکو وختونو کښې دغه شان مکان د قیصې چاپېرچل جوړوي؛ او مونږه ته د فضا او کردارونو احساساتو ښه پېژندلو کښې مرسته کوي — کله چې لیکوال خاص ځایونه یادوي، نو دا صرف د پېښې ځاے نه ښايي بلکې د قیصې موضوع او پېغام هم روښانه کوي — زمان او مکان په یو ځاے لوستونکي ته دا فهم ورکوي چې د پېښو ترتیب او د کردارنو ژوند په اسانه اوپېژندلے شي —

د **زمان او مکان ادبي تصور** دا دے چې لیکوال یا شاعر وخت (تېر، اوس، راتلونکے) او ځاے (کلے، ښار، کور، وطن، جېل، صحرا وغیره) څنګه په خپل ادب کښې پکاروي. په ادب کښې زمان او مکان صرف ساعت او نقشه نه وي، بلکې د انسان د احساساتو، حالاتو او تجربو سره تړلي وي. د مثال په توګه، تېر وخت یادونه، ارمان او افسوس پېدا کوي، او ځاے کله امن، کله قید او کله درد ښکاره کوي. نو ادبي لحاظه زمان او مکان د قیصې، نظم یا شعر فضا جوړوي او د کردارونو د ژوند حالت لوستونکي ته ژور او با احساسه ښايي. په ادب کښې زمان او مکان بېله بېل قسمونه لري —

وخت د مادې د حرکت له بېلابېلو شکلونو سره سم ګڼ تصورونه لري؛ فزیکي، میخانیکي، جیولوجیکل او نجومي وخت د طبیعي او کائناتي بدلونونو تسلسل ښايي، بیولوژیکي او نفسیاتي وخت د ژوندو موجوداتو او انساني شعور د پېژندګلو سره تړاو لري، او ټولنیز تاریخي وخت د انساني ټولنو د بدلون او ارتقا څرګندونه کوي، تر دې چې وخت په مفهومي، اساطیري او ادبي اندازو سره غیرخطي او تخلیقي تعبیر هم

مومي.[25] په دې کښې يو رايتي زمان هم دے چې په انګريزي کښې ورته Narrative Time وايي ـ

"که يوه افسانه د پېښو ټول وخت په يوه ورځ کښې اوښايي، خو د يو اهمې حادثې تفصيل څو پاڼې نيسي، نو د Narrative Time له مخې پېښې په مختلف اوږدوالے او ترتيب سره وړاندې شوې دي."[26]

بيا په رواياتي يا Narrative Time کښې دوه جزونه دي يو خطيlinear او بل غېر خطيnon linear د مثال په طور که د يو ليکونکي په ليک کښې يو قيصه د ماشومتوب نه ځوان او بيا بوډا توب ته بوځي نو دا خطي دے او د دې بر عکس کۀ دا طيبعي ترتيب وران وي يعنې قيصه سمدست د حال نه ماضي ته تلې وي نو دا غېر خطي دے ـ د دې مثال د شو چې يوه قيصه کښې د يو کردار د مرګ نه قيصه شروع شي بيا د ماشومتوب قيصه راشي او بيا يک دم د خوب نه راپاځي دا غېر خطي دے ـ

د دې نه علاوه په ادب کښې د زمان او مکان يوه بله اصطلاح هم مخې ته راځي د **کرونوټوپ** اصطلاح د ادبي متن د زمان او مکان د مشترکې فضا د پاره يکاريږي. يعنې د قيصې، شعر يا افساني پېښې، کردارونه او ټولنيز ژوند په يو خاص زماني او مکاني فضا کښې ښودل کېږي. کرونوټوپ لوستونکي ته د پېښو رواني تسلسل او د کردارونو احساسات په طبيعي ډول ښکاره کوي. د مثال په توګه، که په يو نظم/افسانه کښې د کليو ژوند د پسرلي فصل سره يوځاے څرګند شوے وي، نو هم دا کرونوټوپ دے.

په ادبي نظريه او د ژبې فلسفه کښې، **کرونوټوپ (chronotope)** هغه طريقه ده چې وخت او ځاے په ژبه او متن کښې ښودلے کېږي. دا مفهوم د روسي اديب ميخائيل باختين (Mikhail Bakhtin) د طرفه په اول ځل استعمال شو، کرونوټوپ د يوناني کلمو ) **"chronos"**وخت) او ) **"topos"**ځاے) نه جوړ شوے دے، او معنا يې په لفظي ډول **وخت-ځاے** ده. باختين په ۱۹۳۷ کال کښې په خپله يوه مقاله "Forms of Time and of the Chronotope in the Novel" کښې وښودله چې بېلابېل ادبي قسمونه د زمان او مکان بېلابېل شکلونه لري ، او دا هر قسم ته خاص بيانيه او خاص روايت ورکوي. "[27]

د ماسټر عبدالکريم افسانه د يتيم اختر د يو خاص معلوم مکان ذکر کوي کوم ته چې حقيقي مکان وئيلے شي ـ

"د غلام حسين د جوارو ډکه رېړه د سرډهېرو په يوه منډيي کښې ډک په ډکه پاتې شوه او د ژړی په شپه سم د ماښامه چا سمبال که ـ ـ ـ .. ـ"سرخپوشو د ازادی نه پېټې جوړه کړه ، هر سړے دومره زړور شوے دے چې د خداے نه هم د چا سترګه نه سوزي ـ ـ ـ ـ ـ ـ "[28]

په دې کښې **زمان** او **مکان** دواړه په مختلفو قسمونو کښې ياد شوي دي. لکه د سرډهېرو منډي يو جعرافيايي مکان دے ، رېړه د کلي وال او اولسي ژوند فضا جوړوي چې يو خاص ټولنيز مکان تصور کيږي ـ زمان يکښې هم په دوه شکلونو راغلے دے لکه د ژړی شپه او ماښام طبيعي زمان دے او سرخپوشو د ازادی خبره يو فکري زمان دے چې يو انقلابي دور ته اشاره ده ـ دا افسانه يو د زمان او مکان يو خطي شکل هم لري چې واقعه مخ په وړاندې روانه وي دې سره سره افسانه يو خپل کرونوټوپ لري چې د دغه وخت اندازه ترې کيږي چرته چې سرخپوش په منظم ډول د ازادی د پاره تيار وو ـ په بيګار نومې افسانه کښې د زمان او مکان ذکر داسې کوي ـ

" ـ ـ ـ ـ ـ د نيم نه زيات لښکر د چوړايي په لاره د برانيال نه اوښتے وۀ اوس ورته سواتيان بحرين

> او مداین وایي ــ ــ ــ ــ په تول سوات کښې د پېټې
> اوس ورته سواتیان فتح پوره وایي ) اوړۀ یاد دي د
> باچا ، وزیر په دلبار دا اوړۀ ډېر لګي ــ ــ ــ ــ
> ــ نمر د چودګرام غرۀ مخامخ پورېد نښترو په ځنګلو کښې
> پټې سترګې پروت وۀ ــ ــ ــ ــ "[29]

په دې کښې **مکان** ډېر واضح، واقعي او جغرافیائي دے؛ لکه چوړړایي لاره، برانیال، بحرین، مداین، تول سوات، چودګرام غر او د نښترو ځنګلونه، چې د سوات سیمه د یو پراخ تاریخي میدان په توګه یې عکاسي کوي . دا ځایونه صرف طبیعي جغرافیا نه ده، بلکې د جګړې، لښکرو او سیاسي واک له فضا سره تړلي دي، نو ځکه دا **تاریخي ــ جغرافیایي مکان** جوړوي. بل خوا **زمان** په غېرمستقیم شکل وړاندې شوے دے؛ د لښکر تېرېدل، فتح، د باچا او وزیر د دلبار یاد د یو خاص تاریخي دور نښه ده، یعنې د جګړو او باچاهۍ زمان. هم دارنګه "اوړۀ یاد دي" د حافظې او تېر وخت د یاد زمان څرګندوي، او "نمر پټې سترګې پروت وۀ" د طبیعت د سکون له اړخه تمثیلي احساس ورکوي، لکه وخت چې درېدلے وي. نو په دې کښې زمان هم تاریخي، هم حافظوي او هم تمثیلي شکل لري. په دوه خدائي خدمتګار افسانه کښې د زمان او مکان ذکر په ښکلي انداز سره داسې کوي ــ

> " ــ ــ ــ ــ ــ بر او کوز شموزي خو سره لاس لستوني
> دي ، پریچخېلو،بازار غاړو او کلي سروالو به تر نیمې
> شپې د شاخیلي کاکا په بټ کښې ناسته کوله ــ ــ ــ
> ــ ــ یو شپه خداے خبر چې نور علي ته زۀ زړۀ څه ووې
> ــ د بټ د پاسه ناست وۀ ، ګپ یې لګاوۀ ویلې هلکه!
> حسنالي خوښه دې نه ، چې دې حج مبارک ته لاړ شو ؟بله
> ورځ ملا صېب مسله کوله چې د حج ډېر ثوابونه دي ــ
> ــ ــ ــ بله ورځ چې خلک خبریدل نو نورعلي کاکا دوي
> د ګوجرو په لاره پېښور ته روان شوي وو ــ ــ ــ ــ بل
> کراچۍ څه پرانګ چارسده خو نه ده ــ ــ ــ ــ څه موده
> پس خلک مکې معظمې ته اورسېده او د بیت الله شریف تواف
> له لاړل ــ ــ ــ ــ ــ یره بس دا خلک بس زۀ ښۀ پېژنم
> ښه حسنالي چې معلوم شوې راته ــ ــ ــ ــ د حج مېله
> خوره شوه ، اختر هم تېر شو خلقې کلو ته راماتې شوې
> نورالي هم راستون شو د پېښور تېسن له ورله حسنالي
> پخېر راغلې له راغلے و ــ ــ ــ ــ ــ "[30]

په دې افسانه کښې **مکان** او **زمان** دواړه په تسلسل او روایتي شکل کښې راغلي دي. مکان د کلیوالي او سیمه ییز ژوند د فضا سره تړلے دے؛ لکه بر او کوز شموزي، پریچخېل، بازار غاړې، کلي سروال، د شاخیلي کاکا بټ، د ګوجرو لاره، پېښور، کراچۍ او بیا مکه معظمه او بیت الله شریف، چې د کلي نه تر نړیوال مذهبي مرکز پورې د انسان سفر عکاسي کوي . بل طرف ته زمان د شپې ناستې، "یوه شپه"، "بله ورځ"، "څه موده پس"، د حج مېله او اختر په ذریعه رواني او تسلسلي شکلونه لري، چې د روزمره ژوند، مذهبي سفر او بېرته راستنېدو ټول پړاوونه رانغاړي. نو دلته زمان روایتي، تسلسلي او مذهبي دے او مکان کلیوالي، سیمه ییز او مقدس، چې دواړه یوځاے د ټولنیز او مذهبي ژوند یو مکمل تصویر جوړوي.

د ماسټر عبدالکریم د "هیر به مې نه شي" افسانه د پښتنو د سیاسي او معاشرتي ژوند د یوې اهمې تاریخي دورې سره تعلق لري. د افسانې پېښې د ۱۹۳۰م کال، د انګرېز د استعماري حکومت او د خدایي

خدمتګار تحریک د سیاسي بېدارۍ په زمانه کښې رامنځته کېږي. په دې توګه تاریخي زمان د افسانې د پېښو د پاره صرف د وخت ټاکنه نه کوي، بلکې د کردارونو په ژوند او د هغوی په فکري بدلون هم اثر کوي. جانس چې په اوله کښې د کلي يو شوخ او بې پروا هلک وي، د سیاسي مبارزې له فضا سره په مخامخ کېدو ورو ورو د خپلې ټولنې په اړه شعور پیدا کوي او د خدايي خدمتګارانو له مبارزې سره یو ځاے کېږي.

د افسانې مکانونه هم د هم دې تاریخي زمان د حالاتو سره تړلي دي. کلی، حجره، غونډه او د سورپوښو جلوس د پښتني ټولنیز ژوند او سیاسي بېدارۍ فضا څرګندوي، په داسې حال کښې چې د هري پور جیل د استعماري ظلم او د مبارزینو د مزاحمت څرګند مکان دے. په ځانګړې توګه زندان صرف د بند او جبر ځاے نه پاتې کېږي، بلکې د مبارزینو د يووالي، قربانۍ او سیاسي باور په فضا بدلېږي. د جانس د ژوند له کلي نه تر زندان او بیا تر مرګ او دفن پورې د مکانونو بدلون د هغه د شخصي ژوند له بدلون سره يو ځاے روان دے يعنې د مکان بدلون د زمان د بدلون او د کردار د فکري تحول څرګندونه هم کوي.

"----------په ۱۹۳۰ع کې چې پښتنو زلمو د باچا خان د دنګ او لوړ بیرغ د لاندې په پېرنګي چغه وویسته-------------په شېبو باران ورېده، د ورځو نه یوه ورځ ده چې مونږه يې د جامو وینځلو خای ته راوستو، ورکوتي جانس هم د هغه يوې شړۍ نه ګتي وهلی نچوړ جامې په لاس کې نيولي؛ لکه د هوسۍ په غور دانګو را روان و، د ترنګزو حاجی صاحب سرفراز خان او از ورکړو، چی جانسه بچیه په مزه مزه خه پښه دې و نه ښويېږي خوړ به شي جانس ویلی کاکا که زه وښويېدم؛ خو يوازې زما لاس پښه به ماته شي کنه ته فکر کوه که ته وښويېدې؛ نو ټولې ترنګزۍ به د ځانه سره ډوبې کړې داد جانس وروستۍ خبرې وې------ادي خفه کېږه مه اخر به خدای (ج) رڼا کړي، دا جېلونه به ټول عمر نه وي، زمونږ زړونو ته به خدای (ج) خواه مخواه ګوري او پېرنګی به دا وطن پرېږدي---------"[31]

د کرونوټوپ له مخې په دې افسانه کښې **۱۹۳۰م کال، پښتنی کليواله فضا، د خدايي خدمتګار تحريک او هري پور زندان** يو له بل سره نه بېلېدونکے جوړښت جوړوي. د دې تاريخي زمان په دننه کښې کلی د سياسي بيدارۍ، جلوس د ټولنيزې مبارزې او زندان د استعماري جبر او مزاحمت په مکان بدلېږي. په اخره کښې د جانس مړينه او د هغه د دفن زمکه د تېر تاريخ او راتلونکي ياد ترمنځ اړيکه جوړوي؛ ځکه د هغه مړينه صرف د يو فرد اخره نه، بلکې د يوې تاريخي مبارزې د ياد نښه ګرځي. له هم دې وجې په "هير به مې نه شي" کښې زمان او مکان د کرونوټوپ په توګه د تاريخي شعور، سياسي مبارزې، قربانۍ او اجتماعي ياد د څرګندولو اهمه هنري وسيله ګرځېدلې ده.

د ماسټر عبدالکريم د افسانو د مطالعې نه دا څرګندېږي چې په دغو افسانو کښې زمان او مکان صرف د پېښو د واقع کېدو د پاره ساده پس منظر نه دے، بلکې د افسانوي نړۍ د معنې، فضا، کردارونو او فکري پيغام په جوړولو کښې بنيادي رول لري. د هغه په افسانو کښې تاريخي زمان، ټولنيز زمان، نفسياتي زمان او روايتي زمان يو له بل سره تړلي دي، هم دارنګه کلي، حجره، جېل، ښار، کليواله فضا او د سياسي مبارزې ځايونه يوازې جغرافيايي ځايونه نه دي، بلکې د خپل وخت د ټولنيزو، سياسي او فکري حالاتو نمائندګي کوي. په خاصه توګه د خدايي خدمتګار تحريک، د انګرېز استعمار، د پښتنو د سياسي بېدارۍ، زندانونو، بې

وزلی او ټولنیزو ناخوالو انعکاس د ماسټر عبدالکریم په افسانو کښې د زمان او مکان له ځانګړي تړاو سره څرګندېږي.

د دغو افسانو د زمان او مکان په مشترکه مطالعه، چې د کرونوټوپ له نظریې سره یې تړاو پیدا کېږي، دا هم څرګندوي چې ماسټر عبدالکریم د خپل عصر تاریخي او ټولنیز ژوند په افسانوي شکل ثبت کړے دے. د ده د پاره مکان د زمان له اثر نه علاوه مکمل معنا نه پیدا کوي او زمان هم د مکان له فضا نه علاوه خپل افسانوي قوت له لاسه ورکوي. له هم دې وجې د هغه افسانې د یوې خاص دورې د سیاسي، ټولنیز او انساني ژوند ادبي انځورونه ګڼل کېدے شي. په دې توګه ویلے شو چې د ماسټر عبدالکریم په افسانو کښې زمان او مکان نه یوازې د قیصې د جوړښت عناصر دي، بلکې د تاریخي شعور، ټولنیز احساس، انساني درد او د خپلواکۍ د فکر د څرګندولو اهمې وسیلې هم دي؛ او هم دا خاصه وجه ده چې د هغه د افسانوي ادب د فکري او هنري ارزښت په څرګندولو کښې خاص اهمیت لري.

حوالې

---

[1] ـ باچا خان او خدايي خدمتګاري،خان عبدالولي خان،کوهاټ روډ پېښور،مارچ ۱۹۹۳،صفحه ۹۳

[2] ـ باچا خان ،پروفېسر وقار علي شاه، صفحه ۱۵

[3] - خدائی خدمت گار تحریک کے گمنام ہیرو، فہیم سرحدی، فرنٹیر پوسٹ پبلیکیشنز لاہور، اشاعت اول ۱۹۹۳، مخ ۱۵

[4] ـ د قلم خاوندان ،همېش خليل ،پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي،ملت ايجوکېشنل پرنټرز لاهور، اول چاپ کال ۱۹۹۹،صفحه ۳۱۸

[5] ـ ځولۍ ګلونه ،ماسټر عبدالکريم اتمانزی، دانش خپرندويې،ټولنې تخنيکي څانګه،پېښور،چاپ کال ۲۰۰۶،صفحه ۱۱

[6]- هم دغه اثر، صفحه ۱

[7] ـ ځولۍ ګلونه ،ماسټر عبدالکريم اتمانزی، دانش خپرندويې،ټولنې تخنيکي څانګه،پېښور،چاپ کال ۲۰۰۶،صفحه ا

[8] ـ محمد اعظم اعظم ،ډاکټر،پي ايچ ډي مقاله پښتو ادب کښې کردار نګاري،پېښور يونيورسټي،کال ۱۹۹۳،مخ ۲۰۷

[9] ـ د پښتو افسانې سل کلن بهير، اسير منګل، اعراف پرنټرز ،محله جنګي پېښور ښار،چاپ کال دويم ځل ۲۰۲۱،مخ ۷۱

[10] ـ پښتو اکېډمي لغت،ډاکټر خيال بخاري،پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي،کال ۲۰۱۸،مخ ۵۸

[11] ـ پښتو لغت درياب،قلندر مومند،فريد صحرايي، اين ډبليو اف پي پېښور، اول چاپ ۱۹۹۴،مخ ۵۰

[12] ـ ادب څه دے،سحر يوسفزے ،پروګريوانټر پرائزرمنګوره سوات، دويم چاپ ،کال نه لري ،مخ۱۶۹

[13] - ادبي اصطلاحات، پروفیسر انور جمال، نیشنل بک فاؤنڈیشن، اسلام آباد، طبع سوم ۲۰۱۲، مخ ۲۵

[14] ـ ادب څه دے،سحر يوسفزے ،پروګريوانټر پرائزرمنګوره سوات، دويم چاپ ،کال نه لري ،مخ۱۷۰

[15]-پښتو درياب ، قلندرمومند/فريد صحرايي ـ اېن ډبليو ايف پي،پېښور، مخ ۸۰۱

[16] - جامع فیروز اللغات، صفحہ ۱۴۱۲

[17] - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ڈی مقالہ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگویجز، اسلام اباد، ۲۰۰۵، صفحہ ۱۵

[18] . Britannica. (2025). Time. In *Encyclopaedia Britannica*.

[19]-پښتو درياب ، قلندرمومند/فريد صحرايي ،اېن ډبليو ايف پي،پېښور، مخ ۱۲۰۳

[20] - https://www.rekhtadictionary.com/meaning-of-makaan?lang=ur

[21] - اقبال کا تصور زمان و مکان، ڈاکٹر رضی الدین صدیقی، اقبال اکیڈمی ظفر منزل، تاج پورہ لاہور، سن ندارد، صفحہ 24

22 - جدید اردو فکشن میں تصور وقت، ناہید قمر، پی ایچ۔ڈی مقالہ، نیشنل یونیورسٹی آف ماڈرن لینگویجز، اسلام اباد، ۲۰۰۵، صفحہ ۹۰

23 - اضافیت، ڈاکٹر رضی الدین صاحب صدیقی، شائع کردہ انجمن ترقی اردو (ہند) دہلی، ۱۹۴۰، صفحہ ۵۵

24 - صحیح مسلم/کتاب الألفاظ من الأدب وغیرھا/حدیث: 5866

25 - *Interrelations between Literary Time and Space in Prosaic Texts, Nataliya Panasenko, State University of Humanities in Mariupol Department of English Philology, page 69*

26 - *Genette, Gérard. Narrative Discourse: An Essay in Method. Cornell University Press, 1980.*

27 - *Bakhtin, M. (1981). "Forms of time and of the chronotope in the novel". The Dialogic Imagination. Austin: Univ. Texas Press. pp. 84–258*

28 - ځولی ګلونه ،ماسټر عبدالکریم اتمانزی، دانش خپرندویې،پوهنې تخنیکي څانګه،پېښور،چاپ کال ۲۰۰۶،صفحه ۲۰،۲۱

29 _ هم دغه اثر صفحه ۳۹، ۳۷، ۳۶

30 _ هم دغه اثر صفحه ۴۷، ۴۶، ۴۴، ۴۱، ۴۰

31 - ځولی ګلونه ،ماسټر عبدالکریم اتمانزی، دانش خپرندویې،پوهنې تخنیکي څانګه،پېښور،چاپ کال ۲۰۰۶،صفحه ۸۸،۸۹،۹۰